(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مجاهد شوې زما څوک رې د سیالۍ
جهاد له څې هغه محاز له څې دازا رې

زه به راستا یم انتظار
تیوسې به وکړم رښتینګار
په بل چا نه کړم اعتبار
ځانونه به کړم ستا رغاړې هار

د کامیابۍ اواز د ې راشه په تا ر ې
جهاد له څې، هغه محاز له څې دازادې
د زړه کې سرته تیار سې ولاړ یم
جهاد له څې هغه محاز له څې دازادې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غونچه د ګلو

ځان یې جوړ کړې دې په ائینې کښې په چکر راغله
غونچه د ګلو په نظر راغله

سترګې چې تورې په کجل کړې
رفتار دې زړه کړې په مزل که
عاشقۍ ستي په تورو دې بل که

د سبا پیغله په شکل تېزه په هنر راغله
غونچه د ګلو په نظر راغله

تا زه لاړ ده الرې بیان
ودرته ولاړیم په انتظار .
په کوم طرف لرې اختیار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راشه!

زما د مینې قدر دانې راشه!
غوټې د ګلو مهربانې راشه!

ستا په یا دون کې لېونې غونډې شوم
د ځانه زیاتې په ما ګرانې راشه!
غوټې د ګلو مهربانې راشه!

د خیال په تال کې تصور غرېږوم
ناز و ادا کې قهرمانې راشه!
غوټې د ګلو مهربانې راشه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه به وایم سهوه شوی سلامت یمه نه
لویه خدایه! تا ته ډېر زیات خجالت یمه زه
عمر تېر شو د ښیښه ګر ساټه په خوشبختی کار ري
دا جونګړه مې د خیال په رنګ د ښکاري

# مـــه وایــه

چاته د دنیا کښې په هیڅ شانې څه پېغور مه وایه
چې دې د پلار او مور نه وي ورته ورور مه وایه

پر دې زمان کله خپلیږي نصحت که اورې
چې خوږ دې نه وي د بل لور ته عبث خوږ مه وایه

زمانه تګه شوه سازش د زمانې شو ذهین
په رښتو سترګو ګرانه وروره سپین ته توره مه وایه

دنیا فانی ده د مېلمه پشانې شپې تېروه
فانی جونګړې ته دې کور او زما کور مه وایه

قام ته دوچتو او سبان چې په هنر جوړوي
هسې غداړ، هسې وا کدار ته څه غمخوړ مه وایه

چې سر یې سپین، ږیره یې سپینه زړه یې ځوان ښکاري
شاعره مخکې د سیمسار نوې دري څلور مه وایه

